د افغانستان اسلامي امارت

د ارشـــاد، حـــج او اوقافـــو وزارت

د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی ریاست

دجمعې ورځې د خطابت موضوع او لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد
دمرکز او ولایاتو تولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

۲۵/ جمادی الأولی/۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۱۵ /عقرب /۱۴۰۵هـ، ش

د خلکو ترمنځ د شخړو او بدیو د هوارولو لپاره دې د صلحې له لارې هلې ځلې وشي.

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له،أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له. وأشهد أنَّ محمداً عبده ورسوله، وأمينه على وحيه، وخيرته من خلقه، وسفيره بينه وبين عباده، المبعوث بالدين القويم، والمنهج المستقيم، أرسله الله رحمة للعالمين، وإماماً للمتقين، وحجةً على الخلائق أجمعين.أما بعد:قال الله سبحانه وتعالى:(إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ).(۱)

درنو مسلمانانو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

د انسـانانو د اخلاقو، طبایعو او خویونو له امله د خلکو ترمنځ اختلافات او شـخړې رامنځ ته کیږي. ځینې وخت د دنیوي ګټو، معاملاتو، د تکبر او ځان پر نورو لوړ ګڼلو ، حسد او کینې په وجه د انسانانو ترمنځ شخړې رامنځ ته کیږي.دېرې هغه شخړې او اختلافات، چې د دوه مسلمانانانو ترمنځ ، د مېړه او مېرمنې، د دوستانو ترمنځ ، د کار تجارتي فعالیتونو ترمنځته کېږي، د شیطان د هغو وسوسو او بې بنسټه ګمانونو پایله وي، چې د انسانانو په زړونو کې یې اچوي. خلک د شیطان د وسوسو پیروي کوي او د شـیطان وسـوسې مني، چې په پایله کې یې دښمني، بېلتون، اختلاف او شخړې رامنځته کېږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم دې حقیقت ته په اشارې سره فرمایلي دي:« إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَلَكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ ».(۲)

ژباړه: شـیطان د دې خبرې څخه ناهیلی شوی دی، چې د عربو په ټاپووزمه کې به یې لمونځ کوونکي عبادت وکړي، خو د هغوی ترمنځ د فتنې، دښمنۍ او اختلاف اچولو څخه نه دی ناهیلې شوی.

---

۱ - الحجرات: (۱۰)

۲ - صحیح مسلم (۸ /۱۳۸)

امام طيبي رحمه الله وايي:(أي إيقاع الفتنة والعداوة والخصومة والقتل).(٣)

ژباړه: د تحريش څخه مراد د خلکو ترمنځ د فتنې، دښمۍ، شخړې او جګړې رامنځته کول دي.

همدارنګه حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ، ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ، فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً، يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ: فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا، فَيَقُولُ:مَا صَنَعْتَ شَيْئًا، ثُمَّ يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ:مَا تَرَكْتُهُ حَتَّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ، فَيُدْنِيهِ مِنْهُ وَيَقُولُ: نِعْمَ أَنْتَ».(٤)

ژباړه: ابليس خپل تخت پر اوبو کيږدي، بيا خپل لښکرې او استازي (د خلکو ترمنځ د فتنو د اچولو لپاره) ولېږي. په دوی کې هغه څوک ابليس ته تر ټولو نږدې مقام لري چې تر ټولو لويه فتنه يې رامنځته کړې وي. يو شيطان راشي او ابليس ته ووايي: ما داسې او داسې وکړل. ابليس ورته ووايي: تا کوم د پام وړ کار نه دی کړی. بيا بل شيطان راشي اوابليس ته ووايي: ما (فلانکی سړی) تر هغې پرنښود ، ترڅو چې د هغه او د هغه د مېرمنې ترمنځ مې بېلتون(طلاق) راوست. نو پس ابليس هغه شيطان ځان ته نږدې کړي او ورته ووايي: ته ډېر ښه يې!

قاضي عياض رحمه الله د «نِعْمَ أَنْتَ» په تفسير کې وايي:(جئت بالطامة والأمر العظيم. نعم أنت الذى أغنيت وفعلت رغبتى، أو أنت الحظىّ عندى).(٥) يعنې تا يو ډېر لوی او خطرناک کار ترسره کړی دی، زما غوښتنه دې پوره کړه او ته زما سره د لوی مرتبې خاوند يې.

د خلکو ترمنځ د صلحې له لارې د شخړو او بديو هوارول زمونږ د ټولو وجيبه او مسئوليت دی.

اسلام د مينې،سولې،وروروليو او يووالي دين دی؛دمسلمانانو ترمنځ د اختلافاتو،دښمنيو،شخړو او بديو ختمولو ته ځانګړی اهميت ورکوي.د مسلمانانو ترمنځ کله ناکله د ځمکې،ميراث،مال،کاروبار،کورنۍ،ګاونډيتوب او نورو دنيوي چارو له امله اختلافات او شخړې رامنځته کېږي. که دا اختلافات اوشخړې په خپل وخت دعقل،حکمت،زغم اوصلحې له لارې هوارې نه شي،نو ورو ورو دښمنۍ ته لاره هواروي،خپلوي پرې کوي دکورنيو ترمنځ بېلتون راولي،دګاونډيانو اړيکې خرابوي او آن دوينې تويېدو او لويو فتنو سبب ګرځي.له همدې امله اسلام مسلمانانوته لارښوونه کوي چې دخلکو ترمنځ دشخړو دهواري،دزړونو ديووالي او داړيکو دبېرته ټينګښت لپاره هڅې وکړي.دخلکو ترمنځ دصلحې دلارې دشخړو هوارول يوازې يوټولنيز ښه کارندی،بلکې يوسترعبادت،دالله تعالى د رضا وسيله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم له مهمو لارښوونو څخه دی.

مونږ مسلمانان بايد کوښښ وکړو، چې د خلکو ترمنځ شخړې او بدۍ په صلحې سره هوارې کړو او د خلکو ترمنځ د شخړو هوارول يواځې د قاضي ، عالم ، قومي مشرانو او سپين ږيرو مسئوليت نه دی ؛ بلکې دا زمونږ د ټولو ګډ شرعي او اخلاقي مسئوليت دی. هر مسلمان بايد د صلحې او مصالحې له لارې د خلکو ترمنځ د شخړو او بدۍ هوارولو لپاره هڅه وکړي ، د خلکو ترمنځ د اختلافاتو د زياتولو پرځای د صلحې له لارې د شخړو د ختمولو لپاره کار وکړي ، د خلکو ترمنځ د دښمنۍ اور مړ کړي او د مسلمانانو ترمنځ د وروروليو اړيکې بيرته ورغوي او د مسلمانانو زړونه سره نږدې کړي .

---

٣ - شرح المشكاة للطيبي الكاشف عن حقائق السنن (٦ /٢٠٢١)

٤ - صحيح مسلم (٨ /١٣٨)

٥ - إكمال المعلم بفوائد مسلم (٨ /٣٤٩)

که دوه مسلمانان د یوې وړې خبرې ، ځمکې ، میراث ، پیسو، کورنۍ ستونزې، یا شخصي اختلاف له امله یو له بل سره اړیکې پرې کړي او ترمنځ یې شخړه رامنځ ته شي، د نورو مسلمانانو ديني او اخلاقي مسئولیت دی چې د هغوی ترمنځ دصلحې لپاره هلې ځلې وکړي او کوښښ وکړي چې ددوی شخړه محاکمو ته و نه رسیږي ځکه د محاکمو فیصلې دښمني ، کینه ، بغض او شخړې نورې هم زیاتوي.

د همدې امله حضرت عمر رضي الله عنه به قاضیانو ته ویل چې کوښښ وکړئ چې متخاصم جهتونه صلحې ته وهڅوئ.

په یو روایت کې راځي. عَنْ مُحَارِبٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ : رُدُّوا الْخُصُومَ حَتَّى يَصْطَلِحُوا فَإِنَّ فَصْلَ الْقَضَاءِ يُحْدِثُ بَيْنَ الْقَوْمِ الضَّغَائِنَ).(٦)

ژباړه: د محارب رحمه الله څخه روایت دی، هغه وایي چې حضرت عمر رضي الله عنه به ویل متخاصم او د شخړو خلک واپس کړئ ترڅو په خپلو منځو کې صلحه وکړي ، ځکه قضایې فیصلې د خلکو په منځ کې کینه را پیدا کوي.
کله ناکله د دوو کسانو یا دوو کورنیو ترمنځ شخړه دومره اوږده شي چې هیڅ یو لوری د ښېنې او تیریدنې لپاره تیار نه وي. او ځینې وخت د دوو کسانو یا دوو کورنیو ترمنځ شخړه واقع شي او بیا د وخت په تیریدو هغوی په خپلو کړو پښیمانه وي او غواړي چې ددوی ترمنځ صلحه وشي، خو الله جل جلاله مونږ ته امر کوي چې تاسې د خلکو ترمنځ د شخړو او بدیو د هوارولو لپاره د صلحې له لارې هلې ځلې وکړئ.الله جل جلاله فرمایي:(وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا).(٧)
ترجمه: او که د مؤمنانو دوه ډلې په جنګ شوې، نو په مینځ کې یې روغه وکړئ.

همدارنګه الله تعالی د سورة الحجرات په لسم نمبر آیت کې مونږ ته داسې امر کوي :(إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ).(٨)
ترجمه:بې له شکه مؤمنان سره ورونه دي. نو د خپلو ورونو په مینځ کې روغه راولئ او له الله نه وډار شئ کیدای شي چې پر تاسې رحم وکړای شي.
په پورتني مبارک آیت کې خطاب مونږ او تاسې ټولو ته راجع دی او د صلحې له لارې د خلکو ترمنځ د شخړو هوارول زمونږ او ستاسو مسئولیت او وجیبه ده لکه چې امام قُشَيري رحمه الله وایي:(إيقاعُ الصلح بين المتخاصمين مِنْ أَوْكَدعزائم الدِّين.وإذاكان ذلك واجبأفإنه يدل على عِظَمِ وِزْرِالواشي والنَّمام).(٩)
ژباړه: د دوه متخاصمو ترمنځ صلحه کول ددین د ډیرو مؤکدو عزیمتونو څخه دي او هرکله چې صلحه کول واجب دي ، نو دا د چغل خور او بد ویونکي د ګناه پر لوی والي باندې دلالت کوي.

امام ابوالليث سمرقندي ددې أیت لاندې لیکي:(إذا اقتتل فريقان من المسلمين وجب على المؤمنين الإصلاح بين الفريقين).(١٠)

ژباړه: کله چې دمسلمانانو دوه ډلې په خپلو منځو کې جګړه وکړي، په نورو مسلمانانو واجب ده اصلاح راوستل ددواړو ډلو ترمنځ.

---

٦ - مصنف عبد الرزاق (٨/ ٣٠٣)، مصنف ابن أبي شيبة (٤/ ٥٣٤) ، السنن الكبرى للبيهقي. ط المعارف بالهند (٦/ ٦٦)
٧ -الحجرات: (٩)
٨ -الحجرات: (١٠)
٩ - تفسير القشيري (٧/ ٢٩٢، بترقيم الشاملة آليا)
١٠ - بحر العلوم ـ موافق للمطبوع (٣/ ٣١٠)

د الانفال په سورت کې هم الله جل جلاله مونږ او تاسې ته امر کوي:(فَاتَّقُواْ اللّهَ وَأَصْلِحُواْ ذَاتَ بِيْنِكُمْ).(١١)

ترجمه: پس ويرېږئ تاسې له الله نه او اصلاح وکړئ تاسې د هغه حال چې په منځ ستاسې کې دی

په دې مبارک آیت کې الله تعالی مونږ ته امر کوي چې خپلمنځي اصلاح وکړئ. دا اصلاح یواځې په خبرو نه کیږي ، بلکې د خلکو ترمنځ شخړو ختمول ، د ناراضه زړونو یوځای کول ، د حقوقو اداء کول او ددښمنیو له منځه وړل ټول په کې شامل دي.

په مجلسونو کې هغه مجلس غوره دی چې په هغه مجلس کې د صلحې له لارې د خلکو ترمنځ شخړې هواریږي. الله جل جلاله فرمایلي دي:(لا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلاحٍ بَيْنَ النَّاسِ).(١٢)

ترجمه: د هغوی په ډیرو پټو خبرو کې هیڅ خیر نشته خو یوازې د هغه چا په پټو خبرو کې شته چې په خیرات، نیکۍ او د خلکو په مینځ کې په روغه راوستلو امر کوي

ددوه کسانو ترمنځ هر پټ مجلس کول سم کار نه دی، مګر که چیرې پټ مجلس د دوه کسانو ترمنځ د صلحې او روغې جوړې لپاره دائریږي هغه غوره مجلس دی چې د صدقې ورکولو سره یې اجر برابر دی.

ځوک چې د دوو ورونو ترمنځ صلحه کوي، ددوو کورنیو ترمنځ شخړې ختموي ، ددوو قومونو ترمنځ اختلافات په مینه او محبت بدلوي او د خلکو ترمنځ د محبت فضا رامنځته کوي ، هغه په حقیقت کې یو ستر عبادت دی.

په اسلامي شریعت کې د خلکو ترمنځ د شخړو او بدیو هوارول د صلحې له لارې دومره مهم کار دی چې حتی الله تعالی فرمایي که چیرې تاسې له وصیت کوونکي څخه ویریدلې چې په وصیت کې به له حق څخه میلان وکړي ، نو تاسې کولای شی چې مخکې له مخکې صلحه وکړی. الله جل جلاله فرمایلي دي:(فَمَنْ خَافَ مِنْ مُوصٍ جَنَفاً أَوْ إِثْماً فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ).(١٣)
ترجمه: نو که څوک ډاریده چې وصیت کوونکي به د چا طرفداري یا ګناه کړي وي او بیا یې د دوی په مینځ کې روغه جوړه وکړه پر روغه کوونکي هیڅ ګناه نشته، بې شکه الله پاک بښونکی مهربان دی.
که چیرې د بښځې او خاوند ترمنځ شخړه او زړه بداوی واقع شي ، نو پرځای ددې چې محاکمو ته موضوع یوړل شي، بهتره داده چې د صلحې له لارې موضوع هواره شي؛ ځکه په صلحه کې ددواړو خیر پروت دی او الله تعالی صلحې ته خیر ویلی دی. الله تعالی په دې اړه فرمایلي دي: (وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزاً أَوْ إِعْرَاضاً فَلا جُنَاحَ عَلَيهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحاً وَالصُّلْحُ خَيْرٌ).(١٤)

ترجمه: او که کومه بښځه د خپل میړه له سرکشۍ او مخ اړولو څخه وډاریده نو په میړه او بښځې هیڅ ګناه نشته چې پخپلو مینځونو کې روغه وکړي روغه او سوله خورا غوره ده.

١١- الانفال: (١)
١٢ -النساء:(١١٤)
١٣-البقرة: (١٨٢)
١٤ النساء:(١٢٨)

امام قرطبي رحمه الله ددې أيت په تفسير کې ليکي دي:(أن الصلح الحقيقي الذي تسكن إليه النفوس ويزول به الخلاف خير على الاطلاق.(خير) أي خير من الفرقة، فإن التمادي على الخلاف والشحناء والمباغضة هي قواعد الشر).(١٥)
ژباړه: حقيقي صلحه چې نفسونه ورسره سکون واخلي او اختلاف له منځه يوسي دا مطلقاً غوره کار دی.(خير) دا غوره دی له جدايې څخه ، ځکه چې ننوتل په اختلاف کې او بدبينۍ او بغض دا د شر قواعد دي.

همدارنګه په يو بل مبارک آيت کې الله تعالى فرمايي ، چې که چيرې د ښځې او خاوند ترمنځ شخړه واقع شوه ،نو ددواړو له کورنيو څخه نمايندګان او خير خواهان مقرر کړئ او ترمنځ يې د صلحې له لارې شخړه حل کړئ.

الله جل جلاله فرمايي: (وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَماً مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَماً مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلاحاً يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا).(١٦)

ترجمه: او که تاسې د ميړه او ښځې له مخالفت او جلا والې څخه ډاريدئ نو د ميړه د کورنۍ يو غړی او هم دښځې د کورنۍ يو غړی د منځګړي په توګه وټاکئ نو که دواړو د روغې غوښتونکي وي الله پاک به د هغوی په مينځ کې روغه او موافقه راولي،

په حديث شريف کې راځي چې د صلحې له لارې د خلکو شخړې او اختلافات ختمول د روژې، لمونځ او صدقې څخه افضله دی.

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّلاَةِ وَالصَّدَقَةِ ». قَالُوا بَلَى. قَالَ « إِصْلاَحُ ذَاتِ الْبَيْنِ ».(١٧)
ژباړه: د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آيا تاسې ته درداسې عمل خبر در نکړم چې هغه غوره دی د نفلي روژې، نفلي لمانځه او نفلي صدقې څخه؟ صحابه کرامو رضي الله عنهم وويل: هو! ای دالله رسوله ! خبر مو کړه.رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل د خلکو ترمنځ اصلاح راوستل دي.
يعنې مسلمان بايد يواځې د خپل ځان د عبادت او اصلاح فکر ونه کړي؛ بلکې د نورو مسلمانانو د اړيکو داصلاح لپاره هم هلې ځلې وکړي.
رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي هغه جرمونه چې له تاسې صادريږي کوښښ وکړئ چې د صلحې له لارې په خپلو منځو کې يو بل ته وبښئ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « تَعَافَوُا الْحُدُودَ فِيمَا بَيْنَكُمْ».(١٨)

ژباړه: د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې بيشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: عفوه کړئ په خپلو منځو کې هغه حدود چې مخلوق پورې تړاو لري(لکه غلا او قذف).

ددې حديث منعا داده چې هغه حدود چې د مخلوق حقوقو پورې تړاو لري او حد په کې جاري کيږي؛ لکه غلا او قذف، هغه د صلحې له لارې يو بل ته وبښئ . د خلکو ترمنځ د شخړو او بديو د صلحې له لارې هوارول دومره ضروري کار دی چې آن د اسلام مبارک دين دصلحې په چارو کې درواغ ويل (توريه او تعريض) هم روا کړي دي.

---

١٥ - تفسير القرطبي (٥/ ٤٠٦)
١٦-النساء: (٣٥)
١٧- سنن أبى داود-ن (٤/ ٤٣٢)
١٨ - سنن أبى داود-ن (٤/ ٢٣٢)، سنن النسائي (٨/ ٧٠)، سنن الدارقطني (٣/ ١١٣)

د خلکو ترمنځ د سولې او اصلاح د اهمیت له امله رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصلاح په موخه ځینې داسې خبرې روا کړې دي چې په عادي حالت کې دروغ ګڼل کېږي.

د دې بېلګه دا ده چې د دوو شخړه کوونکو کسانو ترمنځ منځګړی د یوه په اړه بل ته داسې د خیر او نېکۍ خبرې ورسوي چې د هغوی زړونه نرم کړي، که څه هم هغه خبرې په حقیقت کې د هغه کس خپلې خبرې نه وي کړې.
په حدیث شریف کې راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ، فَيَنْمِي خَيْرًا أَوْ يَقُولُ خَيْرًا».(١٩)
ژباړه: هغه سړی درواغجن نه دی چې د خلکو ترمنځ صلحه راولي، پس ورسوي بل جانب ته د خیر خبره او یا وکړي په صلحه کې نیکه خبره .(د اصلاح په نیت).
امام غزالي رحمه الله لیکي:(وهذا يدل على وجوب الإصلاح بين الناس، لأن ترك الكذب واجب ولا يسقط الواجب؛ إلا بواجب آكد منه).(٢٠)

ژباړه: د ا حدیث د خلکو ترمنځ د صلحې کولو په وجوب دلالت کوي ؛ ځکه چې درواغ پریښودل واجب دي او واجب نه ساقطیږي مګر په هغو واجبو ساقطیږي چې هغه واجب د لومړني واجبو څخه ډیر مؤکد وي.
امام ابن العربي رحمه الله وایي: (الكذب في هذا وأمثاله جائز بالنص رفقا بالمسلمين لحاجتهم إليه).(٢١)
ژباړه: د مسلمانانو د اړتیا او مصلحت له امله د دې ډول دروغو ویل د نص له مخې روا دي.
همدارنګه له حضرت اسماء بنت یزید رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:«لَا يَحِلُّ الْكَذِبُ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ: يُحَدِّثُ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ لِيُرْضِيَهَا، وَالْكَذِبُ فِي الْحَرْبِ، وَالْكَذِبُ لِيُصْلِحَ بَيْنَ النَّاسِ».(٢٢)
ژباړه: دروغ ویل یوازې په درېیو ځایونو کې روا دي:
١ . هغه خبرې چې یو مېړه یې د خپلې مېرمنې د خوشحالولو او د کورنۍ د مینې او الفت د ساتلو لپاره کوي.
٢. په جګړه کې د دښمن پر وړاندې د جګړه ییز تدبیر په توګه.
٣. د خلکو ترمنځ د سولې او اصلاح راوستلو لپاره.
دلته د مېړه او مېرمنې ترمنځ د دروغو څخه موخه د مینې او محبت څرګندول، د یو بل د خوشحالولو خبرې او داسې ژمنې دي چې د واجب حقونو د ضایع کولو سبب نه ګرځي.
خو هغه دروغ چې د بل چا د حق د خوړلو، د خپل واجب مسئولیت څخه د تېښتې، د بل د غولولو او یا د حرام کار د ترسره کولو لپاره وي، هغه حرام دي.
امام نووي رحمه الله وایي:(وَأَمَّا كَذِبه لِزَوْجَتِهِ وَكَذِبهَا لَهُ فَالْمُرَاد بِهِ فِي إِظْهَار الْوُدّ وَالْوَعْد بِمَا لَا يَلْزَم وَنَحْو ذَلِكَ ، فَأَمَّا الْمُخَادَعَة فِي مَنْع مَا عَلَيْهِ أَوْ عَلَيْهَا ، أَوْ أَخْذ مَا لَيْسَ لَهُ أَوْ لَهَا فَهُوَ حَرَام بِإِجْمَاعِ الْمُسْلِمِينَ).(٢٣)

---

١٩ - صحيح البخاري ت (٧/ ٢٩)، صحيح مسلم (٨/ ٢٨)
٢٠ - إحياء علوم الدين (٢/ ١٩٩)
٢١ - فيض القدير, للمناوي(٥ /٢٩٦)
٢٢ - سنن الترمذي (٤/ ٣٣١)
٢٣ - شرح النووي على مسلم (٨ /٤٢٦)

ژباړه: د مېړه او مېرمنې ترمنځ د دې ډول دروغو موخه د مینې او محبت څرګندول، د زړونو د خوشحالولو خبرې او داسې ژمنې دي چې د کورنۍ د الفت او دوام سبب ګرځي. خو که دا دروغ د یو بل د حقونو د ضایع کولو، د واجب مسئولیت څخه د تېښتې او یا د هغه څه د ترلاسه کولو لپاره وي چې د انسان حق نه وي، نو دا د ټولو مسلمانانو په اتفاق حرام دي.

د خلکو ترمنځ د سولې او اصلاح په وسیله د افرادو او ټولنې اصلاح کېږي،
د مینې او محبت فضا رامنځته کېږي، د خپلوانو پرې شوې اړیکې بېرته نښلول کېږي او د مسلمانانو ترمنځ وروروالي او یووالی پیاوړی کېږي.
نو نېکمرغه او بختور دی هغه څوک چې الله تعالی د ده په لاسونو د خیر دروازې پرانیزي او د خلکو ترمنځ د اصلاح او سولې وسیله یې وګرځوي.
همدارنګه هره ورځ چې انسان سحر کوي دده د بدن په غړو باندې صدقه لازمیږي او کله چې د خلکو ترمنځ شخړې د صلحې له لارې هواري کړي ، نو ده په حقیقت کې د هغه صدقه اداء کړه چې دده پر اعضاوو لازم شوی وه.
په حدیث شریف کې راځي عن أبي هريرة رضي الله عنه ، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :«كُلُّ سُلَامَى مِنَ النَّاسِ عَلَيهِ صَدَقَةٌ كُلَّ يوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ ، يعْدِلُ بَينَ الاِثْنَينِ صَدَقَةٌ ، وَيعِينُ الرَّجُلَ على دَابَّتِهِ فَيحْمِلُ عَلَيهَا أَوْ يرْفَعُ عَلَيهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ ، وَالْكَلِمَةُ الطَّيبَةُ صَدَقَةٌ ، وَكُلُّ خَطْوَةٍ يخْطُوهَا إِلَى الصَّلَاةِ صَدَقَةٌ ، وَيمِيطُ الْأَذَي عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ».(٢٤)
ژباړه: له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د خلکو د بدن په هر غړي باندې صدقه لازم ده، هره ورځ چې لمر په کې را خیژي . (نو څوک چې) دخلکو ترمنځ صلحه وکړي ، نو دا صدقه ده ، یا څوک دسړي سره په سپرلۍ کې مرسته وکړي په بارولو او ورځنې راکوزلو کې دا هم صدقه ده. ښه وینا کول صدقه ده، او هر قدم چې د لمانځه په لوري اخلي دا هم د ده لپاره صدقه ده او یا لري کړي کوم ضرري څیز چې د لارې څخه دا هم صدقه ده .
د (تعدل بين الاثنين) معنا د صلحې ټولو اشکالو ته شامله ده لکه د خپلوانو ترمنځ صلح، د قبائلو ترمنځ صلح ، د ګاونډیانو ترمنځ صلح، د ښځې او خاوند ترمنځ صلح، د کارګرانو، اجیرانو او مالکانو ترمنځ صلح، د مور او پلار او اولادونو ترمنځ صلح، د قاتل او مقتول د ورثه ؤ ترمنځ صلح او داسې نور. د خلکو ترمنځ د صلحې له لارې شخړې هوارول د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمل دی.
په حدیث شریف کې راځي. عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ أَهْلَ قُبَاءٍ اقْتَتَلُوا حَتَّى تَرَامَوْا بِالْحِجَارَةِ فَأُخْبِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ فَقَالَ:« اذْهَبُوا بِنَا نُصْلِحُ بَيْنَهُمْ».(٢٥)
ژباړه: د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایي بیشکه یوځل د قباء خلکو په خپلو منځو کې جګړه وکړه، آن تردې چې یو او بل یې په تیګو/ډبرو وویشتل ، له دې واقعې څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر کړل شو، نو پیغمبر علیه السلام صحابه کرامو ته وفرمایل: بوزئ مونږ اهل قباء ته چې د هغوی ترمنځ صلح وکړو.
رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل لوړ مقام او ډیرو دیني او ټولنیزو مسئولیتونو سره سره د قباء د خلکو د ترمنځ د صلحې لپاره په خپله ولاړ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا کار د خلکو ترمنځ د صلحې له لارې دشخړو د هوارولو پر اهمیت دلالت کوي.

---

٢٤ - متفق عليه
٢٥ - صحيح البخاري ت (٧/ ٣١)

نو مونږ ته هم په کار ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې مبارک سنت عمل پیروي وکړو او د خلکو ترمنځ شخړې د صلحې له لارې د حل کولو لپاره هڅې وکړو.

د صلحې له لارې د خلکو ترمنځ شخړې هوارول د صدقې ورکولو څخه بهتره عمل دي.

په یو حدیث شریف کې راځي. عَن أبي أيُّوب قَالَ قَالَ لي رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم يَا أَبَا أَيُّوب أَلا أدلك على صَدَقَة يُحِبهَا الله وَرَسُوله؟ تصلح بَين النَّاس إِذا تباغضوا وتفاسدوا». (٢٦)

ژباړه:د ابوایوب رضي الله عنه څخه روایت دی،هغه وایي چې ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:ای ابوایوبه! آیا زه تاته داسې صدقه در ونه ښایم چې الله تعالی او دهغه رسول یې خوښوي؟(هغه صدقه داده چې) ته صلحه وکړی د خلکو ترمنځ کله چې هغوی یو بل سره بغض وکړي او علاقات فاسد کړي.

د صلحې فوائد او برکتونه د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې:

صلحه د اسلام له مهمو ټولنیزو ارزښتونو څخه ده. اسلام دمسلمانانو ترمنځ د وروروليۍ، محبت، یووالي او اتفاق دین دی. دښمني، کینه، بغض، حسد اواختلاف نه خوښوي.الله تعالی له مسلمانانو څخه غواړي چې د اختلافونو او شخړو پر ځای د صلحې، وروروليۍ او محبت لاره غوره کړي.

صلحه یوازې د دوو کسانو ترمنځ د یوې شخړې ختمولو ته نه ویل کېږي، بلکې صلحه د زړونو د نږدېوالي، د اړیکو د پیاوړتیا، د دښمنیو د ختمولو او د ټولنې د اصلاح یوه مهمه وسیله ده. راځئ چې د قرآن کریم او نبوي احادیثو په رڼا کې د صلحې ځینې مهم فوائد بیان کړو.

لومړی: صلحه د الله تعالی د رحمت او رضا سبب ده. الله تعالی فرمایي:(وَالصُّلْحُ خَيْرٌ). (٢٧)

دا د قرآن کریم یوه لنډه خو ډېره جامع جمله ده. الله تعالی په دې آیت کې د صلحې په اړه فرمایي چې صلحه غوره ده؛ ځکه صلحه د شخړو مخه نیسي، د خلکو ترمنځ محبت پیدا کوي او د ټولنې د اصلاح سبب ګرځي.همدارنګه الله تعالی فرمایي:(فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ). (٢٨)

په دې آیت کې الله تعالی مسلمانانو ته امر کوي چې د خپلمنځي اړیکو د اصلاح لپاره هڅې وکړي.

نو څوک چې د خلکو ترمنځ صلحه کوي، هغه د الله تعالی د امر د عملي کولو لپاره هڅه کوي.

دویم: صلحه د مسلمانانو د وروروليۍ د پیاوړتیا سبب ده.

الله تعالی فرمایي:(إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ). (٢٩)

په دې آیت کې الله تعالی د مؤمنانو ترمنځ وروروليۍ بیان کړې ده او بیا یې د دې وروروليۍ د ساتنې لپاره د صلحې حکم کړی دی.

کله چې دوه مسلمانان سره په شخړه اخته شي، د هغوی ترمنځ وروروليۍ کمزورې کېږي، زړونه یې له یو بل څخه تورېږي او د محبت پر ځای دښمني پیدا کېږي.خو کله چې صلحه وشي، زړونه سره نږدې کېږي، محبت بېرته راژوندی کېږي او د مسلمانانو ترمنځ وروروليۍ پیاوړې کېږي.

٢٦- الترغيب والترهيب للمنذري (٣/ ٣٢١)، واخرجه الطيالسي بلفظ:(ألا أدلك على صدقة يرضي الله ورسوله موضعها قال بلى...).مسندالطيالسي (ص: ٨١) (دار المعرفة)

٢٧ - النساء:(١٢٨)

٢٨- الأنفال:(١)

٢٩ - الحجرات:(١٠)

له همدې امله بايد هر مسلمان د اختلافونو د زياتولو پر ځای د صلحې او ورورولۍ لپاره هڅې وکړي.

دريم: صلحه د مسلمانانو ترمنځ د کينې او دښمنۍ مخه نيسي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:«لَا تَحَاسَدُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا».(٣٠)

ژباړه: يو له بل سره حسد مه کوئ، يو له بل سره بغض او دښمني مه کوئ، يو له بل څخه مخ مه اړوئ، بلکې د الله تعالى ورونه اوسئ.

دا حديث مورږ ته دا درس راکوي، چې مسلمانان بايد د يو بل په وړاندې د محبت، ورورولۍ او خيرخواهۍ چلند ولري.

صلحه هغه وسيله ده چې د خلکو له زړونو څخه کينه، بغض او دښمني له منځه وړي.

ډېر وخت يوه کوچنۍ خبره د دوو کورنيو، دوو قومونو او حتى د دوو کليو ترمنځ د اوږدې دښـــمنۍ ســـبب ګرځي؛ خو که د خير غوښتونکي خلک مداخله وکړي او صلحه رامنځته کړي، نو د ډېرو لويو ستونزو مخه نيول کېږي.

څلورم: صلحه د زړونو د سکون او ارامتيا سبب ده. دښمني او شخړه انسان له روحي سکون څخه محروموي. هغه څوک چې له خپل ورور، ګاونډي، خپلوان يا بل مسلمان سره په شخړه کې وي، ډېر وخت يې فکر په هماغه اختلاف کې بوخت وي. کله به غوسه کېږي، کله به د انتقام فکر کوي او کله به د مقابل لوري په اړه بدګماني کوي.خو صلحه د دې ټولو ستونزو د کمېدو سبب ګرځي.
کله چې د دوو کسانو ترمنځ صلحه وشي، د هغوی زړونه ارامېږي، اندېښنې يې کمېږي او د ژوند خوږوالی بېرته احساسوي.
رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:«لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ».(٣١)
ژباړه: د يوه مسلمان لپاره روا نه ده چې له خپل مسلمان ورور سره له دريو شپو څخه زيات پرېکون وکړي.
دا حديث د مسلمانانو ترمنځ د اړيکو د ساتلو او د اختلافونو د ژر ختمولو اهميت څرګندوي.

پنځم: صلحه د رحمت او مغفرت د ترلاسه کولو وسيله ده.

الله تعالى فرمايي:(إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ). (٣٢)

هغه ټولنه چې خلک يې د يو بل د اصلاح لپاره هڅې کوي، د الله تعالى د رحمت او برکت هيله پکې ډېره وي.

شپږم: صلحه د کورنيو او خپلوانو د اړيکو د ساتلو سبب ده.

زمورږ په ټولنه کې ډېرې شخړې د کورنيو، ورونو، تره زامنو، د تره ګانو، د ماماګانو او نورو خپلوانو ترمنځ رامنځته کېږي.کله کله د ميراث، ځمکې، پيسو، واده، ګاونډيتوب او نورو دنياوي چارو له امله خپلوان کلونه کلونه يو له بل سره خبرې نه کوي.دا ډېره لويه بدمرغي ده چې انسان د څو محدودو دنياوي ګټو لپاره خپلوان، ورونه او د کورنۍ غړي له لاسه ورکړي.
رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:«مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ».[٣٣]

---

[٣٠] -متفق عليه

[٣١] -متفق عليه

[٣٢]-الحجرات:(١٠)

[٣٣] - صحيح البخاري ت (١٥/ ٣٧٤)

ژباړه: څوک چې پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان لري، نو هغه دې خپلوي وپالي.

نو صلحه د خپلولې د اړیکو د ساتنې، د کورنیو د یووالي او د راتلونکو نسلونو د سالمې روزنې لپاره هم ډېره مهمه ده.

اووم: صلحه د جګړو، وینو تویېدو او مالي زیانونو مخه نیسي.

ډېرې لویې جګړې او خونړۍ شخړې له کوچنیو اختلافونو څخه پیل کېږي. که د شخړې په لومړیو پړاوونو کې د خیر غوښتونکي خلک مداخله وکړي، د دواړو لورو خبرې واوري او د عدالت پر بنسټ صلحه وکړي، نو د ډېرو لویو مصیبتونو مخه نیول کېدای شي. الله تعالی فرمایي: (وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا). (٣٤)

په دې آیت کې الله تعالی حتی د هغو مسلمانانو ترمنځ هم د اصلاح حکم کړی چې جګړه یې پیل کړې وي. نو د ټولنې مشران، علماء، قومي مخور او د خیر غوښتونکي خلک باید د شخړو د ختمولو لپاره جدي هڅې وکړي.

صلحه د انسانانو ژوند ژغوري، د مالونو ساتنه کوي، د یتیمانو او کونډو د بې‌سرپرستۍ مخه نیسي او د ټولنې د امن سبب ګرځي.

اتم: صلحه د خیر او نېکۍ د خپرېدو سبب ده.

الله تعالی فرمایي: (لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا). (٣٥)

ترجمه: د خلکو په ډېرو پټو مشورو کې هېڅ خیر نشته، مګر د هغه چا په مشوره کې (خیر دی) ، چې د صدقې، نېک کار یا د خلکو ترمنځ د شخړو د هوارۍ لپاره په اصلاح امر کوي؛ او څوک چې دا کار د الله تعالی د رضا د ترلاسه کولو لپاره وکړي، ژر به موږ هغه ته لوی اجر ورکړو.

دا آیت د صلحې د فضیلت په اړه ډېر ستر دلیل دی. الله تعالی په دې آیت کې د خلکو ترمنځ اصلاح کول له هغو نېکو کارونو څخه شمېرلي چې د الله تعالی د رضا لپاره ترسره کېږي او د لوی اجر مستحق ګرځي.

نو څوک چې د خلکو ترمنځ د صلحې لپاره هڅې کوي، باید خپل نیت خالص کړي، د الله تعالی رضا وغواړي او د دواړو لورو حقوق په پام کې ونیسي.

اللَّهُمَّ أَصْلِحْ ذَاتَ بَيْنِنَا، وَأَلِّفْ بَيْنَ قُلُوبِنَا، وَاهْدِنَا سُبُلَ السَّلَامِ، وَجَنِّبْنَا الْفِتَنَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ.
وصلى الله على نبينا وشفيعنا محمد صلى الله عليه وسلم

---

[٣٤] -الحجرات:(٩)

[٣٥] - النساء:(١١٤)